آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۲۰

# سرې وينې، تورې اوبه

## (د بلک واټر ماموريت)

کور ته مې راغلی

وې دې مرسته کوم

خو ما ليدل چې په لستوني کې دې

کوم څه پټ کړي وو

او نه دې ښودل

په خپل دلدار پسې دې منډې وې بس

او په دې منډو کې دې

زه هم تر پښو لاندې کړم

ستا د اسونو تر سُم لاندې

ښه ځپ، ځپ شومه

او سره وينه مې تويې شوله

اوس بيا راغلی يې او وايې راته

چې زما دا ځپ، ځپ بدن

او زما په سرو وينو رنګين مات اندام

تورو اوبو سره رامينځې

پاکوې مې بيرته؟

۲۰۱۷/۰۸/۱۱

هیدرسلیف

دنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ